# د ماشوم پالنې وبا EBT (P-EBT) په اړه په مکرر ډول مطرح شوې پوښتنې (FAQs)

# او په اوړي کې ماشوم پالنه P-EBT (** نوی)

2021-2022 ښوونیز کال *(د اګست 5 مه، 2022)*

---

**لومړۍ پوښتنه: د ماشوم پالنې P-EBT څه ته وايي؟**

A: دا د خوړو لنډمهاله امتیاز دی چې د فدرالي حکومت له خوا په دې موخه تصویب شوی دی چې د کوویډ-19 وبا په جریان کې له هغو کورنیو سره مرسته وکړي چې تر 6 کلنو کم عمره ماشومان لري.

---

**دویمه پوښتنه: د ماشوم پالنې د P-EBT امتیازاتو لپاره څوک په شرایطو برابر دي؟**

A: د ورمونټ هغه کورنۍ چې له شپږ کلنو څخه د کم عمره ماشومانو په لرلو سره 3SquaresVT امتیازات ترلاسه کوي. د ماشوم پالنې P-EBT امتیازات به په شرایطو برابرو کورنیو ته د 2021 کال د سپټمبر له پیل څخه د 2022 کال تر جون پورې هره میاشت ورکول کېږي.

---

**دریمه پوښتنه: د ماشوم پالنې P-EBT امتیازات څومره دي؟**

A: د ماشوم پالنې P-EBT له سپټمبر 2021 څخه تر جنوري 2022 پورې په میاشت کې د هر ماشوم لپاره $32.31 دي. د 2022 کال له فبرورۍ څخه تر جون پورې به د هر ماشوم لپاره په میاشت کې $33.55 وي.

---

**څلورمه پوښتنه: په اوړي کې د ماشوم پالنې P-EBT امتیازات څومره دي؟**

A: په اوړي کې د ماشوم پالنې مجموعي P-EBT د هر ماشوم لپاره $391 دي. د ماشوم پالنې د منظمو میاشتنیو امتیازاتو خلاف، د ماشوم پالنې د اوړي P-EBT امتیازات یو ځلي ثابت مقدار امتیازات دي چې د اوړي دواړې میاشتې جولای او اګست تر پوښښ لاندې نیسي.

---

**پنځمه پوښتنه: د ماشوم پالنې P-EBT امتیازات به کله ورکول کېږي؟**

A: د (سپټمبر 2021 تر جنوري 2022 مودې) لپاره لومړۍ دوره تادیات د 2022 کال د جون په لومړیو کې ورکول کېږي. د ماشوم پالنې P-EBT امتیازاتو لپاره په شرایطو برابر ماشومان به له سپټمبر څخه تر جنورۍ پورې په هره میاشت کې چې کورنۍ 3SquaresVT امتیازات ترلاسه کوي، یوه تادیه ترلاسه کوي.

د فبروري تر جون 2022 مودې لپاره امتیازات په سپټمبر کې ورکول کېږي.

د ماشوم پالنې د اوړي P-EBT تادیه به د هغو کورنیو لپاره چې په جولای کې د 3SquaresVT لپاره په شرایطو برابرې وي، په سپټمبر کې ورکول کېږي. د هغو کورنیو لپاره چې په اګست کې د 3SquaresVT لپاره په شرایطو برابرېږي، د ماشوم پالنې د اوړي P-EBT امتیازات به په اکتوبر کې ورکول کېږي. دا نېټې کېدای شي بدلون ومومي، په مهربانۍ سره په مکرر ډول د تازه مطرح شویو پوښتنو لپاره دغه پاڼه وخت په وخت وګورئ.

---

**شپږمه پوښتنه. زه څنګه پوهېدی شم چې آیا زما کورنۍ په شرایطو برابره ده کنه؟**

A: د اقتصادي خدماتو څانګه (ESD) به د پورتني معیار په اساس دا په ګوته کړي چې آیا ستاسو ماشوم په شرایطو برابر دی کنه. که تاسو په شرایطو برابر یاست، تاسو به له ESD څخه داسې لیک ترلاسه کړئ چې د امتیازاتو د ترلاسه کولو څرنګوالی او وخت پکې تشریح شوی وي.

**اوومه پوښتنه: که موږ په شرایطو برابر یو، موږ به څنګه دغه امتیازات ترلاسه کوو؟**

A: د ماشوم پالنې P-EBT امتیازات په EBT کارت کې جمعه کېږي چې ستاسو د 3SquaresVT امتیازاتو لپاره ستاسو کورنۍ ته ورکړل شوی دی.

---

**اتمه پوښتنه: زما د ماشوم لپاره پالنه د دوو کورنیو تر منځ وېشل شوې ده. څوک به امتیازات ترلاسه کوي؟**

A: امتیازات به هغه بالغ کس ته استول کېږي چې د ESD له خوا د 3SquaresVT امتیاز لپاره د کورنۍ د مشر په توګه ثبت شوی دی.

---

**نهمه پوښتنه: زه په دغو امتیازاتو سره څه پېرلی شم؟**

A: په شرايطو د برابرو خوراکي توکو لبست د USDA پر وېب پاڼه وګورئ.

---

**لسمه پوښتنه: زه چېرې کولای شم له خپل EBT کارت څخه استفاده وکړم؟**

A: تاسو په هر هغه ځای کې چې 3SquaresVT منل کېږي کولای شئ له دې کارت څخه په استفادې خوراکي توکي وپېرئ. په دې کې د خوراکي توکو پلورنځي، سوپرمارکېټونه، د هوسایني پلورنځي، او په ورمونټ کې کې شمېر د بزګرانو مارکېټونه شامل دي. ډېر معلومات د DCF د پر EBT وېب پاڼه .باندې وګورئ

---

**یوولسمه پوښتنه: زه په پالنځې کې ماشومان نه لرم. آیا زه به دغه امتیازات ترلاسه کړم؟**

A: هو. تر شپږ کلونو د ټیټ عمر لرونکي ټول هغه ماشومان چې 3SquaresVT ترلاسه کوي په شرايطو برابر دي.

---

**دوولسمه پوښتنه: زه نور ماشومان چې عمرونه يې تر شپږ کلونو لوړ دي لرم. آیا هغوی د ماشوم پالنې د P-EBT امتیازاتو لپاره په شرايطو برابر دي؟**

A: نه. دا امتیازات یوازې د هغو ماشومانو لپاره دي چې 3SquaresVT ترلاسه کوي او عمرونه يې تر شپږ کلونو ټیټ دي. د هغو امتیازاتو په اړه د ډېرو معلوماتو لپاره چې د ښوونځي د عمر ماشومانو لپاره شتون لري، په مهربانۍ سره د ښوونځي د P-EBT په اړه په مکرر ډول مطرح شوي پوښتنې وګورئ.

---

**دیارلسمه پوښتنه: که زه دا امتیازات ونه غواړم څه به کېږي؟**

A: ګډون داوطلبانه دی. که تاسو پرېکړه کوئ چې ګډون نه کوئ، له هغو اضافي امتیازاتو څخه استفاده مه کوئ چې ستاسو په 3SquaresVT EBT کارت کې جمعه شوي دي.

---

**څوارلسمه پوښتنه: که چېرې له P-EBT امتیازاتو څخه استفاده ونشي، آیا د هغوی د اعتبار موده به ختمه شي؟**

A: هو. که چېرې له کارت څخه په 274 ورځو کې استفاده ونشي، P-EBT امتیازات به بې اعتباره شي.

---

**پنځلسمه پوښتنه: زه نورې پوښتنې لرم. چېرې کولای شم نور څه زده کړم؟**

A: د ډېرو معلوماتو لپاره EBT-https://dcf.vermont.gov/esd/covid19/P ته مراجعه وکړئ یا 1-800-479-6151 ته زنګ ووهئ او 7مه ګزینه وټاکئ.

VERMONT
AGENCY OF HUMAN SERVICES
DEPARTMENT FOR CHILDREN & FAMILIES

VERMONT
AGENCY OF EDUCATION